**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د خلافت په نشتون کې مسلمانان یو بل وژني!

**(ژباړه)**

**خبر:**

د پاکستان د پوځ لوی درستیز جنرال عاصم منیر اعلان کړی چې د پاکستان او افغانستان تر منځ یوازینی اختلاف د افغانستان په خاوره کې د منع شوې ډلې (د پاکستاني طالبانو تحریک) شتون او د دوی سرحدي بریدونو پورې تړاو لري. دغه څرګندونې د دولتي ټلویزیوني شبکې (PTV News) لخوا خپرې شوې دي او ویل شوي چې نوموړي دغه خبرې د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ په ۱۴مه، د خیبر پښتونخوا ایالت په پېښور کې له سیاستوالو سره په ناسته کې کړې دي.

**تبصره:**

د پاکستان او افغانستان اړیکي تل ترینګلې پاتې شوې دي. پاکستان تل افغانستان تورن کړی چې د پاکستاني طالبانو تحریک -چې د پاکستان د امنیتي ځواکونو پر وړاندې یې ګڼ بریدونه کړي دي- پر وړاندې د مبارزې په برخه کې بې‌پروایي کوي. په همدې ډول، پاکستان څو ځلې د دې ډلې د پټنځایونو پر وړاندې د افغانستان دننه هوایي بریدونه کړي دي. دغو بریدونو د ښځو او ماشومانو په ګډون ګڼ ملکیان وژلي او د افغانانو غوسه یې راپارولې ده. د افغانستان او پاکستان تر منځ د مسلمانانو دښمني لا زیاته شوې ده.

د پاکستان پوځ د ۲۰۲۴م کال، د ډسمبر په ۲۷مه اعلان وکړ چې په ۲۰۲۴م کال کې نږدې ۴۰۰ پاکستاني سرتیري او تر ۹۰۰ زیات قبیلوي جنګیالي په ترهګرۍ ضد عملیاتو کې وژل شوي دي.

کله چې د ۲۰۲۱م کال، په اګست کې امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه ووتل او طالبانو پر افغانستان واک ترلاسه کړ، هیله پیدا شوه چې د افغانستان او پاکستان اړیکې ښې شي. خو د نړیوالو قدرتونو، په ځانګړې توګه امریکا، ګټې په دې کې دي چې د مسلمانانو تر منځ اختلاف او جګړې وي. امریکا غواړي چې مسلمانان سره وجنګېږي، تر څو د هند پر وړاندې کوم ګواښ نه وي او په ډاډه زړه د چند ضد امریکایي سیاستونه مخته یوسي.

امریکا یو نړیوال نظام رامنځ ته کړی چې د ملي دولتونو پر ساتلو ټینګار کوي او د اسلامي نړۍ اتحاد ناشونی کوي. د عثماني خلافت تر سقوط وروسته، چې د ۱۳۴۲ هـ.ق د رجب په ۲۸مه او د ۱۹۲۴م د مارچ په ۳مه پېښ شو، مسلمانان ډېر ځله سره جنګېدلي دي؛ په داسې حال کې چې د دوی حکام د نیول شویو سیمو لکه کشمیر او فلسطین د ازادولو هڅه نه کوي.

د اسلامي نړۍ روان ناوړه حالت د اوس او خزرج د جاهلیت د وختونو یادونه کوي، چې د قبیلوي تعصباتو او د اسلام د واکمنۍ په نشتون کې جګړې پای نه درلود او د روم او فارس ستر قدرتونه پر نړۍ حاکم وو. خو کله چې اوس او خزرج له

قبیلوي تعصباتو لاس واخیست او د اسلامي حکومت مرسته یې وکړه، پر کفر د مبارزې لپاره په یوه قدرت بدل شول. د راشده خلافت په وخت کې مسلمانانو د روم او فارس ستر قدرتونه مات کړل او په نړۍ کې مخکښ ځواک جوړ شول. دغه راتلونکې لا هم د مسلمانانو لپاره ممکن دی؛ خو په دې شرط چې له قومي او قبیلوي تعصباتو لاس واخلي او له اندونیزیا څخه تر مغرب پورې د ټولو مسلمانانو لپاره یو راشده خلیفه وټاکي.

د پاکستان او افغانستان مسلمانان باید د ابوبکر صدیق رضی الله عنه دا تاریخي خطبه په یاد راوړي:

**وَ إِنَّهُ لَا يَحِلُّ أَنْ يَكُونَ لِلْمُسْلِمِينَ أَمِيرَانِ، فَإِنَّهُ مَهْمَا يَكُنْ ذَلِكَ يَخْتَلِفْ أَمَرُهُمْ وَأَحْكَامُهُمْ، وَتَتَفَرَّقُ جَمَاعَتُهُمْ، وَيَتَنَازَعُوا فِيمَا بَيْنَهُمْ، هُنَالِكَ تُتْرَكُ السُّنَّةُ، وَتَظْهَرُ الْبِدْعَةُ، وَتَعْظُمُ الْفِتْنَةُ، وَلَيْسَ لِأَحَدٍ عَلَى ذَلِكَ صَلَاحٌ**

**ژباړه:** *د مسلمانانو لپاره د دوو امیرانو شتون جایز نه دی؛ ځکه که داسې وشي، د دوی امور او احکام به له اختلاف سره مخ شي، د دوی ټولنه به وپاشل شي او په منځ کې به یې شخړې پیښې شي. په دې حالت کې به سنت پرېښودل شي او بدعت به راڅرګند شي، فتنې به زیاتې شي او هېڅوک به پر داسې حالت کنټرول ونه لري.*

**لیکوال: شاهزاد شیخ – ولایه پاکستان**

۲۰۲۵م کال، د جنوري ۲۰مه

**ژباړن: اسرار تکل**